# دروغژن غل

دا رِساله ”جھوٹا چور“ شیخِ طریقت اَمیرِ اَھلِسُنّت، بانئ دعوتِ اِسلامي **حضرت علّامه، مَولانا، ابُو بِلال محمّد اِلیاس عطّار قادِري، رَضَوي** دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِيَه په اردو ژبه کښې لیکلې ده.

مجلسِ تراجِم (دعوتِ اسلامي) د دې رسالې په آسانه پښتو ژبه کښې د وَس مُناسب د ترجَمه کولو کوشش کړې دې. که چرې په دې ترجَمه کښې څه غَلَطي یا کمې، زیاتي اوموموئ نو ستاسو په خِدمت کښې عرض دې چه مجلس تراجم ته خبر اوکړئ او د ثواب حقدار جوړ شئ.

## پیشکش: مجلسِ تراجِم دعوتِ اِسلامي


برائے رابطہ:

عالَمی مَدَنی مرکز فیضانِ مدینہ محلہ سوداگران پرانی سبزی منڈی، بابُ المَدینہ کراچی، پاکستان

UAN: ☎ +92-21-111-25-26-92 – Ext. 1262

**Email:** 🖃 translation@dawateislami.net

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ؕ وَ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ ؕ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

# دروغژن غل

## د دُرُود شريف فضيلت

حضرتِ عبدُالله بِن سلام رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه د خپل وروور حضرت عُثمان رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه سره د مُلاقات د پاره لاړرو نو هغوئي ډير خوشحاله ښکاريدلو او وئيل ئې، چه ما نن شپه په خوب کښې د سرکارِ مدينه صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ديدار اوکړو، هغوئي صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ما ته [د اوبو] يوه بوقه را عطا کړه، په هغې کښې اوبه وې، ما ښه په

مره خیتهٔ اوخښلې او د هغې یخ والې د اوسه پورې محسوسووم. هغوئي ترې تپوس اوکړو: ''تاسو ته دا مقام څنګه حاصِل شو؟'' جواب ئې ورکړو: په خوږ آقا محمّد مصطفٰی صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې په کثرت سره د دُرُودِ پاك لوستلو په وجه. (سَعادَةُ الدّارَين ص ١٤٩)

دیدار کی بھیک کب بٹے گی

منگتا ہے امید وار آقا (ذوق نعت)

**د شعر ترجَمه:** د دیدار خیرات غوښتونکې اُمّید لري آقا صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! د دیدار خیرات به کله تقسیمیږي.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

www.dawateislami.net

# (١) دروغژن غل

**یو کس** د خپل تره د ځوئ مال غلا کړو، د مال مالِك هغه **غل** په حرمِ پاك کښې اونیولو او اوئې وئیل: دا زما مال دې، غل ورته اووئیل: ته دروغ وائې، هغه کس اووئیل: که داسې خبره وي نو قَسَم اوخوره! دا ئې چه واوریدل نو غل (د خانۀ کعبې مخې ته) د "مقامِ اِبراهیم" په خوا کښې اودریدو او قَسم ئې اوخوړلو، د هغې نه پس هغه د مال مالِك د "رُکنِ یمانی" او "مقامِ ابراهیم" په مینځ کښې اودریدلو او د دُعا د پاره ئې لاسونه پورته کړل، هغه لا دُعا غوښتله چه غل **لیونې** شو او هغه په

www.dawateislami.net

مَکّه مُکرَّمه کښې داسې چغې وهل شروع کړل: چه "په ما څه اوشو او په مال څه اوشو! او د مال په مالِك څه اوشو!!" دا خبر د **خوږ پيغمبر** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نيکه مُبارك حضرت **عَبدُ المُطَّلِب** رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ ته اورسيدو نو هغوئي رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ تشريف راوړو او هغه مال ئې راجمع کړو او د چا چه وو هغه ته ئې ورکړو او هغه هٰغه [خپل مال] واخستو او لاړو. او هغه **غل** د ليونو په شان (منډې او) **چغې** سورې وهلې، تر دې چه د يو غَر نه اوغورزيدو او مړ شو او ځنګلي ځناورو اوخوړو.

(اَخبارِ مَکّه للازرقی ج۲ ص ۲٦ مُلَخَّصاً)

## دوه ماران به غل په شُکَوَلو شُکَوَلو خوري

**خورېو خورېو مَدَني ماشومانو!** مه کله دروغ وائې، او مه د دروغو **قَسم** خورئ او کله هم د چا څه څیز مه غلا کوئ، چه دا په دُنیا کښې هم تباهي ده او په آخِرت کښې هم تباهي ده. د حضرت مسروق رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَیْه نه روایت دې: څوك چه په غلا یا شراب څښلو کښې اخته وي او مړ شي په هغه باندې په قبر کښې دوه ماران مُقَرَّر کړې شي او د هغه غوښه په شُکَوَلو شُکَوَلو خوري. (شرحُ الصُّدور ص ۱۷۲ مُلَخَّصاً)

## (۲) د کړې همسا والا دروغژن غل

زمونږه د خوږ خوږ آقا مَکِّي مَدَنی مُصطفٰی صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مُبارَك دې: ”ما په جَهَنَّم کښې یو کس

اولیدو چه هغه به د خپلې کړې همسا (په حدیثِ پاك کښې دلته لفظِ "مِجَن" راغلې دې د دې معنٰی ده: يعني داسې همسا چه د هغې په يو سر کښې اوسپنه لګيدلې وي او د "هاکۍ" په شان راماته وي.

(اَشِعَّةُ اللَّمعات ج ۳ ص ۵۷)

په ذريعه د حاجيانو څيزونه غلا کول، چه کله به خلقو په غلا کولو اوليدو نو وئيل به ئې: "زه غل نه يم، دا سامان زما په کړه همسا کښې نښتې وو. هغه به اور کښې په خپله کړه همسا باندې دېره لګولې وه او دا ئې وئيل: "زه د کړې همسا والا غل يم." (جمعُ الجوامِع لِلسُّيُوطی ج ۳ ص ۲۷ حديث ۷۰۷۶)

خوږو خوږو مَدني ماشومانو! اِنْ شَآءَاللّٰه نه به مونږه کله دروغ وايو او نه به کله غلا کوو.

ټول يو ځائ نعره اولګوئ:

د دروغو خِلافِ اِعلانِ جنګ دې!

نه به ېخپله دروغ وايو او نه به بل په دروغو مجبوروو.

اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## (۳) د دروغژنو د ماشومانو نه خنزيران جوړ شو

د حضرتِ عيسٰی عَلَیْهِ السَّلَام خوا ته به ډير ماشومان جمع کيدل، هغوئي عَلَیْهِ السَّلَام به ماشومانو ته ښودل چه ستاسو په کورونو کښې فلانکې فلانکې خيز تيار شوې دې، ستاسو د کور خلقو فلانکې فلانکې خيز خوړلې دې، فلانکې خيز ئې ستاسو د پاره ايښودې دې، ماشومان به کور ته لاړل او په ژړا ژړا به ئې د کور والؤ نه هغه خيز غوښتلو. کور والؤ به هغه خيز

ورکړو او د هغوئي نه به ئې تپوس اوکړو چه تاسو ته چا وئيلي وو؟ ماشومانو به وئيل: (حضرت) عيسٰی (عَلَيۡهِ السَّلَام). نو خلقو خپل ماشومان د هغوئي (عَلَيۡهِ السَّلَام) خوا ته د تلو نه منع کړل او [ماشومانو ته ئې] اووئيل چه هغه جادوګر دې (مَعَاذَاللهِ)، د هغوئي سره مه کښينئ او په يوه کوټه کښې ئې ټول ماشومان جمع کړل. حضرتِ عيسٰی عَلَيۡهِ السَّلَام د ماشومانو په لټون لټون کښې [هلته] تشريف يوړو نو خلقو ورته اووئيل چه هغه دلته نشته. هغوئي عَلَيۡهِ السَّلَام اوفرمائيل چه بيا په دې کوټه کښې څوک دي؟ خلقو (دروغ) اووئيل چه دا خو (ماشومان نه دي) **خنزيران** دي. هغوئي عَلَيۡهِ السَّلَام اوفرمائيل: هم داسي دِ وي. بيا چه هغوئي دروازه بيرته کړه نو ټول **خنزيران** وو.

(تفسير خزائنُ العِرفان ص ۱۱۵، تفسير طبری ج ۳ ص ۲۷۸ مُلَخَّصاً)

## دروغژن په دوزخ کښې د سپي په شکل کښې...

خوږو خوږو مَدني ماشومانو! بېشکه اللّٰه تَعَالٰی د غيبو او د پټو څيزونو عِلم لري هغه چه چا له اوغواړي د غيبو او پټو څيزونو علم ورکوي ځکه خو به حضرتِ **عيسٰی** عَلَيْهِ السَّلَام په کور کښې د پټ اېښودې شوو څيزونو په باره کښې ماشومانو ته خبر ورکولو. د دې **حِکايَت** نه مونږ ته دا درس هم حاصِل شو چه **دروغ** ډېر خراب څيز دې خلقو دروغ اووئيل نو په کور کښې د هغوئي پټ کړې شوي ماشومان خنزيران جوړ شو.

حضرتِ **حاتِمِ اَصَم** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي: مونږ ته دا خبره رارسيدلې ده، چه "**دروغژن**" **به په دوزخ کښې د سپي**

**په شکل کښې بدل شي.** ”حسد کوونکي“به په دوزخ کښې د **خنزير** په شکل کښې بدل شي. او ”غِيبَت کوونکي“به په دوزخ کښې د **شادو** په شکل کښې بدل شي. (تنبيهُ المُغتَرِّين ص ١٩٤)

**اولګوئ د دروغو خِلاف نعره:**

د دروغو خِلاف اعلانِ جنګ دې!

نه به يخپله دروغ وايو او نه به بل په دروغو مجبوروو.

اِنْ شَآءَاللہ عَزَّوَجَلَّ

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## (٤) د دروغو خوب اوروونکي انجام

حضرت اِمام محمّد بِن سِيرِين رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه ته يو سړي اووئيل: ”ما يو خوب اوليدو چه زما په لاس کښې د اوبو

www.dawateislami.net

نه ډکه یوه د شیشې پیالۍ ده، هغه پیالۍ خو ماته شوه خو اوبه چه ځنګه وې هم هغسې پاتې شوې." دا ئې چه واوریدل نو هغوئي رَحۡمَةُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیۡه اوفرمائیل: د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ نه اویریږه، (او دروغ مه وایه) ځکه چه تا هډو داسې خوب لیدلې نه دې، هغه سړي اووئیل: سُبۡحٰنَ الله! زه درته خپل خوب اورووم، او تاسو فرمائې چه تا خوب نه دې لیدلې! هغوئي رَحۡمَةُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیۡه اوفرمائیل: بیشکه دا دروغ دي او زه د دروغو د نتیجې ذِمَّه وار نه یم، "که ته واقعی دا خوب لیدلې وي، نو ستا د ښځې به یو ماشوم پیدا کیږي، بیا به هغه مړه شي او ماشوم به ژوندې پاتې شي." د دې نه پس چه هغه سړي کله د هغوئي رَحۡمَةُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیۡه د خوا نه لاړو نو چا ته ئې اووئیل: قسم په خدائے عَزَّوَجَلَّ!

ما خو داسي خوب هډو ليدلې نه وو! چا ورته اووئيل چه ګوره اِمام ابنِ سيرين رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه د خوب تعبير بيان کړې دې، دا حِکايَت بيانولو والا بُزُرګ حضرتِ هشام رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي: د دې واقعې ډيره موده نه وه شوې چه د دروغو خوب بيانوونکې **دروغژن سړې** يو ځوئ پيدا شو خو د هغه ښځه مړه شوه او ماشوم ژوندې پاتې شو. (تاريخ دِمشق ج٥٣ ص ٢٣٢ بتغير قليل)

## د دروغژن جامنې شلولې شوې

خوږو خوږو مَدني ماشومانو! دروغ وئيل او د دروغو خوب بيانول ګناه، حرام او دوزخ ته بوتلونکې کار دې. د مرګ نه پس به دروغژن ته ډير بد عذاب ورکول

شي. **فرمانِ مصطفٰی** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دې: په خوب کښې یو کس ما ته راغې او عرض ئې اوکړو: راځئ! زه د هغه سره روان شوم، ما دوه سړي اوليدل، په هغوئي کښې یو ولاړ او دويم ناست وو، د ولاړ کس په لاس کښې د اوسپنې انبُور وو (يعني د اوسپنې سيخ چه د هغې د يو طرف سر رامات کړې شوې وي) [هغه به] هغه [سيخ] د هغه ناست کس په يوه جامنه کښې واچولو او هغه به ئې د څټ پورې اوشلوله، بيا ئې انبور را اووِيستو او په بله جامنه کښې به ئې ورله واچولو او اوبه ئې شلوله، په دومره وخت کښې به هُغه وړومبنۍ جامنه په خپل اصلي حالت کښې راغله، ما د راوستونکي کس نه تپوس اوکړو: دا څه دي؟ هغه اووئيل: دا **دروغژن** کس

دې ده ته به د قِيامته پورې په قبر کښې هم دا عذاب ورکولې شي. (مَسَاوِی الاخلاق للخرائطی ص ۷٦ حديث ۱۳۱)

**اولګوئ د دروغو خِلاف نعره:**

د دروغو خِلاف اعلانِ جنګ دې!

نه به يخپله دروغ وايو او نه به بل په دروغو مجبوروو. اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## (٦) رښتيني شپونکي

حضرتِ نافِع رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُ فرمائي: حضرتِ عبدُ الله بِن عُمر رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُمَا د خپلو ځينو ملګرو سره په يو سفر کښې وو په لاره کښې يو ځائ کښيناستل او د طعام خوړلو د پاره ئې دسترخوان خور کړو، په دې کښې يو

شپونکي (يعني د چيلو خړولو والا) هلته راغي، هغوئي رَضِیَ اللّٰہ تَعَالٰی عَنْہُ ورته اوفرمائيل: راشئ د دسترخوان نه څه واخلئ، عرض ئې اوکړو: زما روژه ده، حضرتِ عبدُ الله بِن عُمر رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُمَا ورته اوفرمائيل: آيا ته په دې سخته ګرمئ کښې هم (نفلي) روژې نيسې حالانکه ته په دې غرونو کښې چيلئ څروې، هغه اووئيل: قسم په‌خدائے! زه دا په دې وجه کووم چه د ژوند د تيرو شوو ورځو بدله ادا کړم. هغوئي رَضِیَ اللّٰہ تَعَالٰی عَنْہُ د هغه د پرهيزګارئ د ازمېښت کولو په اِراده اوفرمائيل: آيا ته به په مونږه د خپلو چيلو نه يوه چيلئ په مونږه راخرڅه کړې؟ د هغې قيمت او غوښه به هم تا ته درکړو چه ته پرې روژه ماتې اوکړې، هغه جوابورکړو: دا چيلئ زما نه

www.dawateislami.net

دي، زما د مالِك دي، هغوئي رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ ورته د ازمائيلو د پاره اوفرمائيل: مالِك ته اووايه چه يوه چيلئ شرمښ خوړلي ده، غُلام ورته اووئيل: نو بيا اللّٰه عَزَّوَجَلَّ چرته دې؟ (يعني اللّٰه عَزَّوَجَلَّ خو وِيني، هغه خو حقيقت پيژني او په دې خبره به ما اونيسي) چه کله هغوئي رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ بيرته **مديني مُنَوَّرې** ته تشريف راوړو نو د هغه مالِك نه ئې هغه غُلام او تولې چيلئ واخستې بيا ئې شپونکے آزاد کړو او چيلئ ئې هم هغه ته په تحفه کښې ورکړې.

(شُعَبُ الايمان ج٤ ص ٣٢٩ حديث ٥٢٩١ مُلَخَّصاً)

اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ! د رِښتيا وئيلو په بَرَکت په دُنيا او آخِرت دواړو کښې عِزَّت نصيب کيږي. هميشه رِښتيا وائې، کله هم دروغ مه وائې!

**اولڅکوئ د دروغو خِلاف نعره:**

د دروغو خِلاف اعلانِ جنګ دې!

نه به ېخپله دروغ وايو او نه به بل په دروغو مجبوروو.

اِنْ شَآءَاللہ عَزَّوَجَلَّ

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## (٧) د رِښتيا وئيلو په وجه د مرګ نه بچ شو

**حَجَّاج** بِن يوسف يوه ورځ يو څو قيديان قتل کول، يو قيدي پاڅيدو او اوئې وئيل: اے اميرا! زما په تا يو حقّ دې. **حَجَّاج** ترې تپوس اوکړو: هغه څه حق دې؟ اوئې وئيل: يوه ورځ فلانکي کس په تا پورې بدې ردې وئيلې نو ما ستا دِفاع (يعني ملګرتيا) کړې وه. **حَجّاج** اووئيل: د هغې ګواه څوك دې؟ هغه کس اووئيل: [اے

خلقو] د خُدائے د پاره چا چه هغه خبرې اوريدلي وي هغه دِ گواهي ورکړي. يو بل قيدي پاڅيدو اوئې وئيل: آو! دا واقعه زما په مخکښ شوي وه: **حَجّاج** اووئيل: وړومبنې قيدي خلاص کړئ، بيا ئې د گواهئ ورکولو والا نه تپوس اوکړو: ته کومې خبرې منع کړې وې چه تا د هغه قيدي په شان زما ډله نه وه کړي؟ هغه د رِښتياؤ نه کار واغستو او اوئې وئيل: "رُکاوټ دا وو چه زما په زړه کښې ستا سره زَړَه دُښمني وه." **حَجّاج** اووئيل: دا هم خلاص کړئ ځکه چه ده په ډير هِمَّت **رِښتيا** اووئيل. (وَفياتُ الاعيان لابنِ خلكان ج١ ص ٢١١ مُلَخَصّاً)

رِښتيا ويونکي هميشه کامياب وي ځکه چه
"رِښتيا ويوونکي ته هيڅ خطره نه وي."

**اولڅوئ د دروغو خِلاف نعره:**

د دروغو خِلاف اعلانِ جنګ دې!

نه به پخپله دروغ وایو او نه به بل په دروغو مجبوروو!

اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

**فرمانِ مُصطفٰی** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: ”په دروغو کښې هیڅ خیر نشته.“ (مؤطا امام مالك ج٢ ص ٤٦٧ حديث ١٩٠٩)

د دروغو معنٰی ده: ”د رِښتیا خلاف.“

## د ماشومانو د دروغو ٢٤ مثالونه

ښه ماشومان همیشه رِښتیا وائي، غلط ماشومان قِسم قِسم دروغ وائي، د غلطو ماشومانو د دروغو وئیلو 24 مثالونه وړاندې کیږي:

(۱) چه چا ورته نه کنزل کړي وي او نه ئې وهلې وي او دا بیا هم وائي چه "هغه ما ته کنزل کړي دي" (۲) هغه زه وهلې یم (۳) ما خو هغه ته هیڅ هم نه دي وئیلي (حالانکه څه ئې ورته "وئیلي" وي) (٤) هغه زما د لوبو ځیز مات کړو (حالانکه هغه نه وي مات کړي) (٥) د لوړې باوُجود ورته د خوښې ځیز ور نه کړې شي نو وائي: "زه اوږې نه یم" (٦) پــئ [یعني شوده] څښبل ئې زړه نه غواړي او دې لاړ شي په غسل خانې [یعني فَلَش] وغیره کښې [پــئ] توئ کړي او خالي ګلاس اوښائي، وائي چه "ما پــئ اوڅښبل" (۷) د سکول کار [یعني هوم ورك] ئې نه وي کړې او دا وائي: ما د سکول کار [یعني هوم ورك] کړې دې یا مې سبق یاد کړې دې [او یاد کړې ئې نه وي]

www.dawateislami.net

**(٨)** د وړوکي وړور وغیره په اِرَیزر (یعني د ورانولو په ربړ) باندې قبضه کول او دا وئیل، چه دا زما اِرَیزر [یعني ربړ] دی **(٩)** ورته یاد هم وي او بیا هم وائي: ما خو په بستره کښې [واړه] بول نه دي کړي. **(١٠ )** (کوم ماشوم چه په اُودو واړه بَول کوي هغه ته چه د اُوده کیدو نه مخکښې اووئیل شي چه بَول اوکړه نو هغه بَول نه وي کړي او بیا هم وائي چه) ما بول کړي دي **(١١)** ما د **فریج** نه څه څیز نه دې خوړلې (حالانکه خوړلې ئې وي) **(١٢)** هغه ما ته ډِیکه راکړه (حالانکه پخپله ئې تِندك خوړلې وي او راغورزیدلې وي) **(١٣)** د [وړو] بولو خیال نه وي ورغلې یا معمولي خیال ورغلې وي، د دې باوُجود په دَرَجه کښې قاری صاحِب یا اُستاذ ته داسې وئیل: ما ته ډیرې متیازې راغلې دي،

فَلَش ته د تللو اِجازت راكړئ (١٤) پخپله د شور كولو باوُجود دا وئيل چه "ما خو شور نه كولو" (١٥) پرون مې د تبې په وجه هوم ورك [يعني په كور كښ د سكول كار] نه وو كړې (حالانكه تبه ئې نه وه) (١٦) زما نه خپل پنسل د سكول په ګاډي كښ يا په كور كښ هير شوې دې (حالانكه ورته معلومه وي چه په سكول يا دارُ المَدينه كښ ئې ورك كړې دې) (١٧) د شپې بجلي تلي وه په دې وجه مې سبق نه دې ياد كړې (حالانكه د نه يادولو سبب ناراستي يا لوبې كول يا بل څه وي) (١٨) فُلانكي فُلانكي ماشوم وراني كړې دي زه خو ښه په قلاره ناست ووم (حالانكه پخپله هم په وراني كښ شريك وو) (١٩) هغه زما پنسل مات كړې دې (حالانكه پخپله ترې مات شوې وي) (٢٠) دا

دروغ وائي (او ورته معلومه وي چه دا رښتيا وائي) **(۲۱)** ”زما د جيب نه چرته پيسې لويدلي دي“يا داسې وئيل: يو ماشوم را نه پيسې غلا کړي دي (حالانکه په پيسو ئې ښه خيز اخستې وي او ښه په خوند ئې خوړلې وي) **(۲۲)** په خپلې سياهي ئې جامې ګنده شوي وي، خو چه په کور کښې اورتلې شي نو وائي: دا خو يو ماشوم زما په جامو سياهي توئ کړي وه **(۲۳)**چه درد ئې نه وي او اُستاذ ته وائي: زما په خيټه درد دې ماله **چُوټي** راکړئ **(۲٤)** چه معمولي يخنئ وهلې وي يا ئې لړه تبه وي او د مور يا د پلار د همدردئ حاصلولو د پاره د هغوئي په مخکښې قصداً په زوره زوره ټوخيږي يا د هغوئي په مخکښې اسويلې کوي.. او د آ.... اُو.....اوازونه [يعني فريادونه] کوي چه

www.dawateislami.net

هغوئي اووائي چه د ده طبيعت خو ډير خراب دې (دا د اندامونو دروغ دي، واړه او لوئ ټول دِ د دې دروغو نه ځان ساتي)

## د ماشومانو او لويو ټولو د پاره د کار مَدَنی ګلونه

**فرمانِ مصطفٰی** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: ”اللّٰه عَزَّوَجَلَّ پاك دې او پاكي خوښوي، هغه صفا دې او صفائي خوښوي.“

(تِرمِذی ج٤ ص ٣٦٥ حديث ٢٨٠٨)

**مُفَسِّر شَهِير، حَكِيمُ الاُمَّت**، حضرت مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د دې حدِيثِ پاك لاندې ليكي: ظاهري پاكئ ته طَهَارت وائي او باطِنی پاكئ ته ”طِيب“ او ظاهري باطني دواړو پاكيانو ته نَظافَت وائي، يعني اللّٰه

تَعَالٰی د بنده ظاهري او باطِني پاکي خوښوي. بنده ته پکار دي چه هر قِسمه پاك اوسي. وجود، رُوح، جامې، بدن، اخلاق غرض دا چه هر یو څيز پاك صفا ساتي، اقوال [یعني خبرې]، افعال [یعني کارونه]، احوال عقائد ټول درست ساتي، اللّٰه تَعَالٰی دِ داسي نَظافت [یعني ظاهري او باطني پاکي] را نصیب کړي. (مراٰةُ الْمَناجیح ج ٦ ص ١٩٢) ۞ په غاښونو نوکان مه شوکوئ ځکه چه دا مکروهِ (تنزیهی) دي او د دې په وجه د برګي مَرَض لګیدو یره ده. (عالمګیری ج ٥ ص ٣٥٨) ۞ په غُسل خانه کښې یا په بیسن [یعني د لاسونو او لوښو وِینځلو په ځائ] وغیره باندې قصداً په اوبو کښې صابُن داسې ایښودل چه وِیلې شي او ضائع شي، دا اِسراف حرام او ګناه ده ۞ په استنجا خانه

کښې چه څه اوځي په هغې اوبه اړوئ، که هر يو کس د وړو بَولو کولو نه پس يوه لوټه اوبه او د غټو بَولو کولو نه پس پرې د ضرورت مطابق اوبه اړوي نو اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ د بدبوئ او د جراثيمو په پيدا کيدو کښې به کمې راځي، کوم ځائ چه په يوه نيمه لوټه اوبو کار کيږي هلته پوره د فلش [يعني په فلش باندې لږه بره لګيدلي] د ټينکئ اوبه مه بهيوئ ځکه چه په هغې کښې ډيرې لوټې اوبه وي. ۞ په کوم ځائ کښې چه کموډ (يعني د کرسئ په شان د استنجا ځائ) وي هلته نِزدې يوه وړوکې توليه زوړندوئ يا ئې د کموډ په فلش باندې کېږدئ، هر يو له پکار دي چه د [کموډ] اِستعمالولو نه پس په هغه توليه د کموډ غاړې ښې اوچوي، دغسې

به نورو ته د کموډ په اِستِعمالولو کښ آساني وي ۞ د
اِستنجا خانې په دیوالونو باندې هیڅ هم مه لیکئ، که
د مخکښ نه څه لیکلي شوي وي نو هغه هم مه لولئ ۞
په مخ لاس وینځلو، لوښو، جامو [یعني کپړو]، په ګاډې
وِینځلو، اِستنجا کولو، اودس او غُسل وغیره کولو کښ
د ضرورت نه زیاتې اوبه مه اړوئ ۞ د نورو خلقو په
مخکښ د پردې ځائ [یعني شرمګاه] ته لاس لګول، د
ګوتو په ذریعه د بدن نه خِیرې لرې کول، بیا بیا پوزې
له لاس وروړل یا په پوزه یا غوږ کښ ګوته وهل، او
تُوکل ښه خبره نه ده، د دې نه خلقو ته کرکه ورځي ۞
د بَهر استعمال والا چپلې استنجا خانې ته مه وړئ ځکه
چه په هغې فرش ګنده کیږي ۞ د کور د استنجا خانې

د پاره دوه جوړې (یوه د زنانؤ او یوه د نارینؤ) چپلې **مخصوص** کړئ. **مسئله:** د زنانه د پاره د نارینؤ او د نارینه د پاره د زنانؤ چپل یا څپلئ اِستعمالول **ګناه** ده ۞ د خوراك کولو په وخت کښې د بې پردګئ نه د بچ کیدو سره سره څپلې جامې داسې راغونډوئ چه په هغې اِنګوَلې وغیره نه توئیږي ۞ ځینې ماشومان غټه ګوته رئي، دا ښه خبره نه ده ځکه چه د غټې ګوتې او د نُوك خِیرې د ماشوم خیټې ته ځي او دا د بیمارو سبب جوړیدې شي ۞ که په لاسونو مو تیل یا غوړ والې لګیدلې وي نو په دیوال یا پردې یا د بسترې په څادر پورې لاسونه مه راښکاږئ او مه ئې [په هغې] اوچوئ، په داسې کولو دا څیزونه هم ککړیږي ۞ بې ضرورته د قمیص په

لستونړي خوَله مه اوچوئ په دې لِستونړې ګنده کيږي او خلقو ته ښه نه ښکاري ۞ خپله ګمنز او دسترخوان وغيره په هفته کښې يو ځل ښه وِينځل پکار دي، چه د هغې نه خِيرې وغيره لرې شي ۞ چه کله هم په سر تيل لګوئ نو د سربند شريف په سُنَّت باندې عمل کوئ، د دې يوه فائده به دا هم وي چه ټوپئ او عِمامه [يعني پټکې] به د ډيره حده پورې د تيلو د غوړ والي نه بچ وي ۞ ځيني اسلامي ورونړه د ګيرې ويښته ساعت په ساعت په خُله کښې نيسي د دې په وجه په وِيښتو کښې بدبوئ پيدا کيدې شي، په داسې کولو په وِيښتو کښې موجود جراثيم خيټې ته تلې شي ۞ په خبرو کولو کښې د لاړو وتلو په وجه او د خوراك کولو په وخت

www.dawateislami.net

کښې د ککړيدو په وجه لاندې شونډې ته نِژدې ويښتو
کښې بدبوئي پيدا کيدې شي لِهٰذا د ګيرې د اِکرام کولو
په نِيَّت هره ورځ يو ځل په صابُن ګيره وِينځل فائده
مند دي ۞ د مجبورئ نه بغير د قميص په لمَن پوزه مه
پاکوئ، د دې کار د پاره رومال استعمالوئ ۞ د طعام
خوړلو نه پس لوښي ښه پاك کول پکار دي او د رکيبئ
يا د کاسې غاړو ته غورزيدلي ټُکړې را اوچتول او هغه
صفا کول او خوړل پکار دي، د حضرت جابِر رَضِیَ اللّٰه
تَعَالٰی عَنْهُ نه روايت دې چه زمونږه خوږ آقا صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم
د ګوتو او د لوښي د څټلو حکم کړې دې او فرمائيلي
ئې دي: ”تاسو ته معلومه نه ده چه د طعام په کومه
حِصّه کښې بَرَکت دې.“ (مُسلِم ص ۱۱۲۲، حديث ۲۰۳۳) ۞ چه کله

هم خوراك اوكړئ، د خِلال كولو [يعني په غاښونو كښ د تِيلي وهلو] عادت جوړول پكار دي. د خوراك كولو نه پس په نوكانو خِلال كول مُناسِب نه دي. بهتره دا ده چه خِلال د نِيم [يو قِسم تورې شنهٔ] په ډكي اوكړې شي، د هغې د ترِيخ والي سره به د خُلې صفائي هم كيږي او دا د ورو د پاره فائده مند هم وي. بازاري تيلي [يعني د خِلال ډكي] عام طور پيرۍ او كمزوري وي. د كوپرې د تِيلو هغه جارو چه استعمال شوي نه وي د هغې د يو تِيلې يا د كجورې د پـَزَكـي [پـُوزي] د يوې پانړې نه د بليډ په ذريعه ډير شې مضبوط تِيلي تيارېدې شي. ځيني وخت د خُلې د جامني غاښونه د يو بل نه لرې جُدا جُدا وي او په هغې كښ د غوښې وغيره تِيلئ نښلي او هغه

www.dawateislami.net

د تِيلي وغيره په ذريعه هم نه را اوځي. د دې د راوِيستلو د پاره په ميډيکل استور کښ د خاص قِسم تارونه تر لاسه کيږي او د آپريشن د سامانونو په دُکان کښ د غابنونو د کَرَوَلو د استيل يوه آله هم تر لاسه کيږي خو د دې څيزونو د استعمال طريقې زده کول هم ډيرې ضروري دي ګني ورئ زخمي کيدې شي ۞ د ځيني [خلقو] ځاىٔ په ځاىٔ د تُوکلو عادت وي او نور خلق ئې نه خوښوي او دغسې په روانه په لاره کښ او د ديوالونو په کوټونو او چاوونو کښ پان توکل خو ډيره بده خبره ده.

www.dawateislami.net

## خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته زيړ غاښونه ناخوښه وو

**فرمان مصطفٰی** صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: "مسواك كوئ! مسواك كوئ! زما خوا ته زيړ غاښونه مه راوړئ." (جمعُ الجوامِع حديث ۳۸۷۵)

ځيني ماشومان (او لوئي هم) غاښونه نه صفا كوي، چه د هغې په وجه د هغوئي د خلو نه بدبوئ راځي. غاښونه ئې زيړ وي، په غاښونو كښې چينجي اوشي، د ورو نه ئې وِينه راځي او كله كله خو غاښ ويستل هم پريوځي.